


**د هرې قوي ارادې د پایلې وړاندوینه نه شې کېدای**

**خبر**:

په ۲۰۱۸م، کال کې د وژل شوي خبریال جمال خاشقجي دوسیه وتړل او د سعودي عربستان پلازمېنې ریاض ته ولېږدول شوه.

**تبصره:**

جمال خاشقجي، چې د سعودي عربستان د ولیعد محمد بن سلمان پر ضد د خپلو مخالفو مقالو د خپرولو له امله مشهور و، د ۲۰۱۸ م، د اکتوبر په دویمه نېټه په استانبول کې د سعودي عربسان په قونسلګرۍ کې هغه وخت په وحشیانه توګه ووژل شو، چې غوښتل یې د خپل واده/کوژدنې اسنادو کار خلاص کړي. د استانبول ۱۱ سترې جنایي محکمې، چې د دې قتل دوسیه یې څارله، حیرانونکې پرېکړه وکړه، تر څو د نوموړي دوسیه سعودي عرسبتان ته وسپاري. د نوموړي د قتل دوسیه د دغه هېواد د عدلیې وزارت له لوري د مثبتو څرګندونو سره ریاض ته واستول شوه.

په حقیقت کې کې سعودي عربستان ته د خاشقجي د قضیې سپارل په دې معنا دي، چې دا قضیه د تل لپاره ترل شوې ده. دغه راز په دې معنا هم ده چې د نوموړي قضیه یې د هغه قاتیلینو ته سپارلې ده.

ولسمشر اردوغان د دې قضیې په اړه وویل: «دا باید له یاده ونه باسو، چې دا وژنه د ترکیې په داخل کې رامنځته شوې او هېڅوک باید د دې قضیې د ترلو فکر ونه کړي.»

همدارنگه اردوغان یو ځل بیا د جمال خاشقجي د وژنې په اړه زیاته کړه: «زه پوهېږم چې د دې کار تر شاه د چا لاس دی. له هغه غږیزو ریکارډونو څخه معلومیږي، چې د نوموړي په وژنه کې د اوسني ولیعهد نږدې کسانو فعال رول درلوده. داسې کسان هم شته چې د استانبول لویې څارنوالۍ ته یې معلومات نه دي ورکړي، ځکه مجرم معلوم دی. اردو غان هغه کس دی چې د دې قضیې څېړلو کې یې مرسته وکړه او په شخصي توگه یې ریاض د خاشقجي په وژنه تورن کړ.»

خو ولې د اردوغان فکر په بشپړه توگه بدل شو؟ سره له دې چې موږ د اردوغان له بې ثباتۍ سره اشانا یو؟

ولسمشر اردوغان دا قضیه د امریکا په لاربښوونه او له ریاض څخه د ۳-۵ میلیاردو ډالرو اخیستلو په بدل کې بنده کړه. نوموړي دا قضیه هم  د دماوي مارمار (د کنبتۍ نوم دی) د قضیې په څېر پټه کړه، چې په کې لس بې گناه ترکي وگړي ووژل شول او عاملین یې پرته له سزا پرېښودل.

همدرانگه اردوغان په چټکۍ له متحده عربي اماراتو سره خپلې اړیکې جوړې کړې، هغه څوک چې د سیسي د رژیم سره په همکارۍ کې د جولای ۱۵مې په کودتاه تورن و، چې په پایله کې یې محمد مرسي له واک څخه را وپرځولو شو او په زرگونو مسلمانان یې ووژل. دغه راز  یهودیانو ته د دې فرصت په لاس ور کړل تر څو فلسطین اشغال کړي. په دغو جنایتونو راضي نه و، ولسمشر اردوغان په رسنیو کې دا هم په ډاگه کړه، چې هڅه یې کوله ترڅو د بشارالاسد له ظالم رژیم سره خپلې اړیکې ښې کړي؛ چا چې د ماشومانو په گډون نږدې یو میلیون مسلمانان قتل عام کړل. د اردوغان ناوړه عادت دا دی چې نوموړی یوزاې خبرې کوي، مگر په عمل کې ډېر کمزوری دی. همدارنگه د اردوغان دا ټولې بې بنسټه څرگندونې او کړنې په سیاست کې د هغه د ماکیاویلیستي ذهنیت څرگندونې کوي. په حقیقت کې هغه یو ځل وویل چې نوموړی به د واک لپاره د پاپ جامې هم واغوندي.

د ولسمشر اردوغان په سیاست او عمل کې بدلون، د نوموړي کمزورې اراده ښیي. د امریکایي پادري برونسن قضیه وه، چې نوموړی د جاوسوسۍ په تور نیول شوی و او د یوې مودې لپاره په بند محکوم و. د برونسن په اړه،

اردوغان وویل: «تاسې پادري برونسن غواړئ؟ تاسې د پادري (فتح الله ګولن) د سپارلو غوښتنه کوئ، راځئ یوار قضاوت وکړئ، چې بیا یې موږ تاسې ته درکړو.» خو د نوموړي له خبر لږ وروسته، برونسن د امریکا د پخواني ولسمشر ټرمپ په غوښتنه خوشې شو. په همدې ډول موږ د اردوغان کمزورې اراده د یوه خبریال ډینیز یوسیل په قضیه کې ولیده، چې د جرمني په غوښتنه یې خوشې کړ.

له همدې امله ولسمشر اردوغان یو مصلحت‌پال ذهنیت لري، چې د خپلو ګټو او سیاسي شرایطو سره سم عمل کوي. د نوموړي لپاره اړینه ده چې په خپلو خبرو عمل وکړي، قوي اراده ولري یعنې بې ثباته ونه اوسي. خو دا یو ښکاره حقیقت دی، چې ډیموکراتیک شخصیتونه قوي اراده او ثبات نه لري.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**لیکوال: یلماز سیلیک**

**ژباړن: محمد هارون رؤفي**